خپلو اولادونو ته په اووه کلن کې په لمانځه امر وکړئ، او (د نه کولو په صورت کې يې پرې ووهئ) کله چې لسو کلونو ته ورسيږي، او د خوب ځايونه يې سره جلا کړئ

له عمرو بن شعيب رضي الله عنه څخه روايت دى هغه له خپل پلار او هغه له خپل نيکه څخه روايت کوي وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «خپلو اولادونو ته په اووه کلن کې په لمانځه امر وکړئ، او (د نه کولو په صورت کې يې پرې ووهئ) کله چې لسو کلونو ته ورسيږي، او د خوب ځايونه يې سره جلا کړئ».

[حسن] [ابو داود روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې پلار بايد خپلو - نارينه او ښځينه و -اولادونو ته په لمانځه امر وکړي کله چې اووه کلن شي او دا چې هغه کارونه وروښايي چې د لمانځه کولو لپاره ورته اړتيا لري. او کله چې لس کلن ته ورسېږي، خبره يې نوره هم زياته کړي ده، هغه دا چې وهي به يې کله چې په لمانځه کې کوتاهي وکړي، او دا چې د خوب ځايونه يې سره جلا شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5272

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee